

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۳۱ | مسلسل نمبر: ۱۲۱ | پنجشنبه، د جمادی الأولی ۱۵مه، ۱۴۴۷هـ.ق کال





په افغانستان کې مرګوني طبيعي پېښې له لسيزو راهيسې هر کال له افغانانو قرباني اخلي او ترڅنګ يې د دغسې پېښو له کبله زيانمن شوي او بې ځايه کېدونکي خلک هم له خورا زياتو ستونزو سره مخ وي. افغانستان هم له طبيعي پېښو څخه د زيان‌منونکو هېوادونو په قطار کې قرار لري. دغو آفتونو د هېواد زيربناوې، اقتصاد او د هېوادوالو ورځنۍ چارې له جدي ستونزو سره مخ کړې دي.

زموږ په هېواد کې تقريبا هر کال طبيعي افتونه لکه زلزلې، سېلابونه او ورته نورې پېښې رامنځته کېږي چې له امله يې هېوادوالو ته ځاني او مالي زيانونه اوړي. خو په دې وروستيو کلونو کې موږ او تاسو د نورو طبيعي افتونو ترڅنګ په پکتيکا، هرات، کونړ او اوس د هېواد په شمال کې د سمنګان او شاوخوا ولايتونو کې د خونړيو زلزلو شاهدان يوو. په دې زلزلو کې زرګونو هېوادوالو ته مرګ ژوبله واوښته، کورونه يې يا خو په بشپړ ډول ويجاړ او يا هم څه نا څه زيانمن شول. د پېښې له رامنځته کېدو وروسته بيا له زيانمنو او د اوښتو زيانونو په برخه کې پر وخت همکاري او مرستې د حکومتونو مسووليت دی. د الله پاک فضل او کرم دی چې په افغانستان کې اوسمهال داسې يو خواخوږی نظام او زړه سواندي مشران د واک په ګدۍ ناست دي، چې نه يوازې ټول هېوادوال يې د يووالي په تغر سره راټول کړي دي، بلکې د طبيعي پېښو د رامنځته کېدو پرمهال يې په چټکۍ سره د پېښو ځای ته ځان رسولی او پر وخت يې د زيانمنو لاسنيوی کړی دی. که موږ د پکتيکا بيا د هرات او کونړ او اوس د سمنګان په ولايت کې د زلزلې رامنځته کېدو پېښو ته وګورو، د مالي او ځاني زيان کچه يې لوړه وه، خو د اسلامي امارت د مسوولينو په هلو ځلو دغه زيانونه په ښه ډول مديريت شول. په دې برخه کې نه يوازې اړونديو اداري د طبيعي پېښو له امله د زيانمنو لاسنيوی کوي، بلکې د اسلامي امارت مسوولين هم د پېښې ځای ته ورغلي دي. له دې مسوولينو څخه يو هم د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند دی. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د پکتيکا، هرات، کونړ او اوس سمنګان ولايت ته سفر وکړ او هلته يې د زلزلې له امله له زيانمنو شويو هېوادوالو سره وکتل او خپله خواخوږي او غم‌شريکي يې ورسره وکړه. د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال په دې ټولو ولايتونو کې له زيانمنو هېوادوالو سره د دوی د سرپناه جوړولو په برخه کې ژمنه وکړه چې پکتيکا او هرات ولايت کې دغه ژمنې عملي او ډېری زيانمن هېوادوال د سرپناه څښتنان شول. د کونړ او سمنګان په ولايتونو کې يې هم زيانمنو خلکو ته ډاډ ورکړ چې له دوی سره به د نغدي مرستو ترڅنګ د دوی د سرپناه جوړولو په برخه کې هم مرسته او همکاري کوي. لنډه دا چې اوسمهال موږ داسې نظام او مشران لرو چې شپه او ورځ د هېواد د پرمختګ او دهېوادوالو د مرستې له پاره هلې ځلې کوي. دا هلې ځلې به رنګ راوړي او افغانستان او افغانان به په هره برخه کې د پرمختګ ترڅنګ، د هوسا او سوکاله ژوند څښتنان کيږي. ان‌شاءالله

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سمنګان ولايت له زلزله ځپلو سره خواخوږي او غم شريکي وکړه



۲ صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سمنګان له والي سره وکتل



۲مه صفحه

## د اريانا افغان هوايي شرکت د هوايي کارګو لــه لارې في کيلو صادراتي سوداګريز توکي په يو ډالر انتقالوي



۳مه صفحه

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصـــادي او تــولنیزو مسایلـــو په برخـــه کـــې
د ریاســـت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه
اوونیزه ابادي
هفته‌نامه آبادی

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سمنګان ولایت له زلزله ځپلو سره خواخوږي او غم شریکي وکړه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشـــتې په ۱۴مه نېټه سمنګان ولایت ته سفر وکړ او هلته یې د زلزلې له امله له زیانمنو شویو هېوادوالو سره د خواخوږۍ په موخه لیدنه وکړه. د ریاســـت‌الوزراء اقتصادي مرستیال په زلزله کې د شهیدانو روح ته دعا وکړه، د شهیدانو



کورنیو ته یې تسـلیت وواېه، ټپیانو ته یې د عاجلې روغتیا هیله وکــړه او ځان یې د هغوی په غم کې شریک وباله.

محترم ملا صاحب زیاته کړه، اســلامي امارت ستاسې تر څنګ ولاړ دی او ډاډ درکوي چې د خپلو ټولو امکاناتو په چوکاټ کې به د سرپناه جوړولـو، کورونو ابادولو او ځینو نورو برخو کې شته ستونزو ته رسېدنه وکړي.

محترم ملا صاحب له ټولو هغو خیریه بنسټونو، سوداګرو او هېوادوالو څخه منته وکړه، چې په دې سخت وخت کې یې له زلزله ځپلو سره مرسته کړې ده. حاجي ملا صاحب یوځل بیا هم پر ټولو شـــتمنو هېوادوالو، سوداګرو او نړیوالو خیریه بنســـټونو غږ وکړ، چې د دې دردونکې پېښې له قربانیانو او زیانمنو کورنیو سره مرسته وکړي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ســـمنګان ولایت ته نغدي مرســـتې هم وړې دي، چې زیانمنو شویو هېوادوالو ته به د کورونو ابادولو، سرپناه جوړولو، د ټپیانو درملنې او نورو برخو کې د ستونزو د حل لپاره د سمنګانو ولایتي مسوولینو له لوري په شفاف ډول ووېشل شي.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د سمنګان له والي سره وکتل

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند ســـمنګان ولایت ته د خپل سفر پرمهال د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۴مه نېټه د سمنګان له والي محمد شـــعیب رســـالت او د زلزله ځپلو ستونزو ته د رسیدنې له پاره د ټاکل شوو کمېټو له مسوولینو سره د ولایت په مقام کې وکتل. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په



مختلفو برخو کې د ټاکل شـــوو کمېټو له مسوولینو څخه د دوی اړوندو برخو کې د ترسره شوو کړنو راپورونه وغوښتل. د یادو کمېټو مســـوولینو په خپلو راپورونـــو کې وویل، تر دې مهاله یې د زلزلـــې له امله ټولو زیانمنو شـــوو هېوادوالو ته لومړني خوراکي توکي، دارو درمل، البسه، خیمې او د سرپناه اړین توکي رسولي. هغوی زیاته کړه، د سطحې ټپیانو عاجله درملنه شوې او هغوی چې اوږدې درملنې ته اړتیا لري، نغدي مرستې ورسره شوې دي.

محترم ملا صاحب د یادو کمېټو له ترسره شوو کارونو څخه منته وکړه او له هغوی څخه یې په ټینګار سره وغوښتل چې ژر تر ژره د ســـمنګان ولایت په ټولو زلزله ځپلو سیمو کې د شهیدانو، ټپیانو، په بشپړ ډول د نړېدلو کورونو او په نیمه ډول د زیانمن شوو کورونو سروې بشپړه کړي او پر زیانمنو خلکو د اســـلامي امارت له لوري په پام کې نیول شوې مرستې په شفاف ډول ووېشي.

په سمنګان ولایت کې د وروستۍ زلزلې له امله ۱۳ هېوادوال شهیدان او ۳۴۴ ټپیان شوي دي. دغه راز ۴۱۹ کورونه او ۱۲ جوماتونه په بشـــپړ ډول نړېدلي او ۵۹۳ کورونه په نیمه ډول زیانمن شوي دي.



اباډي

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه


## د اریانا افغان هوايي شرکت د هوايي کارګو له لارې في کیلو صادراتي سوداګریز توکي په یو ډالر انتقالوي

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۳مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې د اړوندو وزارتونو او ادارو له مسوولینو سره د هوايي کارګو له لارې



بهرنیو هېوادونو ته د افغانستان د سوداګریزو توکو په ځانګړې توګه د وچو او تازه میوو د صادراتو په اړه دوهمه تعقیبي غونډه ترسره شوه.

د غونډې په پیل کې د اړوندو وزارتونو او ادارو مسوولینو په لومړۍ غونډه کې د ورسپارل شوو کارونو راپورونه وړاندې کړل. د یادو راپورونو له وړاندې کولو وروسته د اریانا افغان هوايي شرکت ته هدایت وشو، چې له دې وروسته في کیلو صادراتي سوداګریز توکي په یو ډالر او في کیلو وارداتي سوداګریز توکي په ۸۰ سېنټه انتقال کړي. همدارنګه د مالیې او ترانسپورټ او هوايي چلند وزارتونو ته هدایت وشو، چې د اریانا افغان هوايي شرکت ته په خپلو فیسونو کې ۹۰ سلنه تخفیف ورکړي. د اریانا افغان هوايي شرکت ته همداراز هدایت وشو، چې څومره ژر ممکنه وي یوه کارګو الوتکه هم وپېرې.

## د کان کیندنې پروژو کې له کورنیو سرچینو څخه د ګټې اخیستنې پالیسۍ مسوده د تایید وړ وبلل شوه

د اقتصادي کمېسیون د تخنیکي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په ۱۲مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د کانونو او پټرولیم وزارت له لورې د کان کیندنې پروژو کې له کورنیو



سرچینو څخه د ګټې اخیستنې پالیسۍ مسوده د بحث لپاره وړاندې شوه. له هراړخیزې ارزونې وروسته یاده مسوده د تایید وړ وبلل شوه او د نهايي تصمیم نیونې لپاره اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه.

د دې پالیسۍ په تطبیق سره به د کان کیندنې برخې د کاري ځواک فني او حرفوي مهارتونه لوړ شي، د کان کیندنې په پروژو کې به دوامداره کاري فرصتونه رامنځته شي، د کان کیندنې په پروژو کې به له کورنیو سرچینو څخه ګټه اخیستنه زیاته او پر وارداتو به تکیه راکمه او همداراز به د کورنیو صنایعو او سیمه ییز اقتصاد ودې ته زمینه برابره شي.

همداراز په دې غونډه کې د یوشمېر نورو موضوعاتو په اړه هم بحث ترسره او په اړه یې اړوندو ادارو ته لازمي سپارښتنې وشوې.

## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې د پانګونې پر یوشمېر طرحو بحث وکړ

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په شپږمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته په کابل ښار کې د ځمکتلي سوداګریز مارکېټ او سوداګریز ورزشي کمپلکس جوړولو او همداراز په بلخ ولایت کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې. له مفصل بحث وروسته یادې طرحې اړوندو وزارتونو او ادارو ته راجع شوې او مسوولینو ته یې سپارښتنه وشوه، څو د یادو طرحو هراړخیزه ارزونه ترسره او راپورونه یې په ټاکلي وخت د پانګونې بین الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.

## د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې په نوبتي غونډه کې د پانګونې پر یوشمېر طرحو بحث وشو

د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د عقرب میاشتې په دیارلسمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته د هېواد د اقتصادي ودې له پاره د ستراتیژیک چوکاټ جوړولو طرحې په تړاو ټاکل شوې کمېټې خپل راپور وړاندې کړ.

همدارنګه په دې غونډه کې د پانګونې پر یو شمېر نورو طرحو هم بحث وشو.

# اخبـــار اقتصـــادی هفتـــه

## وزارت صنعت و تجارت: ۲۰ محصول، ۷۱ درصد صادرات افغانستان را تشکیل می‌دهد

وزارت صنعت و تجارت می‌گوید که افغانســتان در حال حـاضر ۲۰ قلم عمــده صادراتــی دارد که ســالانه به کشورهای همســایه، منطقه و جهان صادر می‌شود . به گفته مسؤلین این وزارت، پنبه، انجیر خشک، کشمش، هنگ و تخم آن، زغال‌سنگ، پیاز تازه و خشک، رومی، سـیب، مغز پســته و بادام، انار، زعفران، زیره، انگور، سـنگ‌های معدنــی، سرب، مشروبــات غیرالکولــی، نوشیدنی‌های انرژی‌زا و آب‌میوه از جمله این محصولات اند. آخندزاده عبدالسلام جواد، سخنگوی وزارت صنعت و تجارت، در این باره گفت: "این ۲۰ قلم محصول که ۷۱ درصد از کل میزان صادرات کشور را تشکیل می‌دهد، به کشورهای گونه‌گون همسایه، منطقه و جهان صادر شده است." از سوی دیگر، مســؤلین اتاق تجارت و سرمایه گذاری می‌گوید که این نهاد تلاش‌های گســترده‌ای را برای بازاریابی محصولات زراعتی افغانســتان آغاز کرده است. به گفته مســؤلین این اتاق، کشــورهای خلیج، آسـیای میانه و اروپا اکنــون بازارهای مناســبی برای صادرات این محصولات به شمار می‌روند. جان آقا نوید، سخنگوی اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری، در این باره می گوید: "اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان همواره تلاش کرده و از اعضای خود خواســته تا با کشــورهای مختلــف روابط نیک تجاری داشــته باشـیم، بازارهای کشورهای دیگر را هم ارزیابی کنیم تا محصولات خود را به آن کشــورها صادر کنیم." وسیم صافی، رییس هیات عامل اتــاق زراعت و مالداری، در ایــن باره می‌افزاید: "مراکز پروســس را ما باید ایجــاد کنیم تا در آن‌ها تمام محصولاتی که می‌آید پروسس و بسته‌بندی شود و از آن جا بارگیری شــود تا بتوانیم معیارهای جهانی را تکمیل و صادرات را انجام بدهیــم." آگاهان اقتصادی می گویند که توسعه پروســس، ارتقای کیفیت و رعایت معیارهای بین‌المللــی می‌تواند نقش مهمــی در افزایش درآمدهای صادراتی، ایجاد فرصت‌های شغلی و کاهش وابستگی به واردات ایفا کند.

## تمدید معافیت هند از تحریم‌های بندر چابهار؛ فرصت تازه برای تجارت افغانستان



چابهار، یکی از مهم‌ترین مســیرهای استراتژیک ایران برای تجارت میان کشورهای هند، پاکستان، افغانستان و آسیای مرکزی، پیش‌تر در فرمان رئیس‌جمهور امریکا به گونه‌ی کلی مورد تحریم قرار گرفته بود. با این حال، منابع دولتی هند به رسانه‌های این کشور خبر داده‌اند که ایالات متحده معافیت هند برای بهره‌برداری از بندر چابهار را تا اوایل ســال آینده تمدید کرده است. بربنیاد گزارش‌ها، با تمدید این معافیت، هند می‌تواند از طریق چابهار، کمک های بشردوســتانه و ضروری به افغانســتان ارسال کند و مسیر تجارت خود را بدون وابســتگی به پاکستان ادامه دهد. سیر قریشی، آگاه مســایل اقتصادی، در این باره چنین دیدگاه دارد: «بندر چابهار دسترسی مستقیم به دریا از طریــق ایران را برای افغانســتان فراهم می‌ســازد و وابســتگی ما را به پاکستان کاهش می‌دهد. ما همواره با این کشــور به‌دلیــل چالش‌های سیاســی در زمینه‌های ترانزیتی و تجارتی مشــکل داشــته‌ایم و حتی پاکستان چندین بار قرارداد اپتا را نقض کرده است. همچنان، این بندر می‌تواند هزینه‌هــای تجارتی را نیز کاهش دهد.» با توجه بــه اینکه پاکســتان تمامی بنادر تجــاری خود با افغانستان را بســته است، افغانســتان بیش از پیش به مســیرهای جایگزیــن، از جمله چابهار، نیازمند اســت. سکتور خصوصی افغانستان این اقدام هند را ستایش کرده و معتقد است که کشور سالانه می‌تواند حجم بیشتری از کالاهای خود را از طریق این مســیر منتقل کند. این در حالی است که در تاریخ ۲۹ سپتامبر، ایالات متحده در پی اعمال تحریم‌های گسترده اقتصادی علیه ایران، تمامی معافیت‌های تحریمی بندر چابهار را لغو کرده و اعلام کرده بود که هرگونه تجارت از این مسیر، مشمول تحریم‌های آمریکا خواهد شد.

## وزارت زراعت طرح پنج‌ساله معیشت بدیل برای کشاورزان را تصویب کرد

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری امارت اسلامی افغانستان اعلام کرده که به هدف فراهم‌سازی زمینه‌های اقتصادی حلال و پایدار برای دهاقین کشور، بر اساس فرمان رهبر امارت اسلامی درباره‌ی ممنوعیت کشت کوکنار، طرح پنج ساله‌ای را برای ایجاد معیشت بدیل تهیه و منظور کرده است. به گفته‌ی مسؤلین این وزارت، برای عملی‌سازی این طرح و ایجاد زنجیره‌ی ارزش در محصولات زراعتی، حدود ۴،۷۹ میلیارد افغانی نیاز است که با تطبیق این برنامه ها، در مجموع ۱۴۹ هزار و ۹۰۰ دهقان به گونه‌ی مستقیم و بیش از یک‌میلیون و ۴۹ هزار نفر دیگر به‌صورت



غیرمستقیم از آن مستفید خواهند شد. شیرمحمد حاتمی، سخنگوی وزارت زراعت، آبیاری و مالداری، در این باره گفت: «این طرح به هدف فراهم‌سازی زمینه‌های اقتصادی حلال و پایدار برای دهاقین کشور، در بخش های زراعت و مالداری، منابع طبیعی و آبیاری اجرا می شود.» این طرح شامل پروژه‌هایی در زمینه‌ی توسعه‌ی باغداری، رشد غله‌جات، انکشاف مالداری، بهبود سیستم های آبیاری، ایجاد سبزخانه‌ها و مراکز آموزشی برای دهاقین است. وزارت زراعت همچنان تاکید دارد که بر بنیاد بررسی‌های اقلیمی و اقتصادی افغانستان، گیاهانی چون زعفران، هنگ، پنبه، گندم و سایر محصولات زراعتی را برای دهاقین معرفی و ترویج کرده است. در همین حال، شماری از دهاقین می‌گویند که به دلیل فقر و نبود فرصت های معیشتی، پیش از این به کشت کوکنار رو آورده بودند، اما اکنون پس از ممنوعیت آن با چالش‌های اقتصادی روبه رو شده‌اند. آنان از امارت اسلامی می‌خواهند تا در زمینه‌ی معیشت بدیل با آنان همکاری شود. وزارت زراعت همچنین تاکید کرده است که شماری از کشورهای کمک‌کننده در بخش معیشت بدیل وعده‌ی همکاری داده‌اند و برخی از این کشورها همکاری‌های عملی خود را آغاز کرده‌اند.

## افزایش ۷۰ درصدی صادرات قالین افغانستان به بازارهای جهانی

اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری هرات اعلام کرده که امسال صادرات قالین دست‌باف افغانی به کشورهای مختلف، بیش از هفتاد درصد افزایش یافته است. به گفته مسؤلان این اتاق، در ماه‌های اخیر با بازگشت مهاجران افغان از پاکستان، تولید قالین سنتی در کشور افزایش یافته و با نام افغانستان به بازارهای جهانی صادر



می‌شود. محمد یوسف امین، آمر اجراییه اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری هرات گفت: «پس از بازگشت مهاجران از پاکستان به افغانستان، صادرات قالینی که با نام پاکستان ولی در واقع توسط افغان‌ها بافته می‌شد، کاهش یافته است. اکنون قالین‌ها در داخل کشور تولید می‌شوند و با لوگو و نام افغانستان صادر می‌گردند.۹۹ درصد قالین دست‌باف افغانی مصرف داخلی ندارد و به بازارهای جهانی صادر می‌شود. بخش بزرگی از قالین افغانی پیش‌تر با نام کشورهای ایران و پاکستان به بازارهای جهانی عرضه می‌شد، اما اکنون این قالین‌ها مستقیماً از طریق گمرکات افغانستان صادر می‌شوند. محمد رفیع نادری، عضو اتحادیه مولدین و صادرکنندگان قالین کشور گفت: «۹۹ درصد قالین افغانستان صادر می‌شود و مصرف داخلی ما حتی به یک درصد هم نمی‌رسد.» بر اساس آمارهای اتحادیه مولدین و صادرکنندگان قالین، بیش از ۴۰۰ هزار نفر در حوزه غرب کشور در صنعت قالین‌بافی مشغول به کار هستند.

ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اباډي اوونيزه
هفته نامه آبادی





# په ملي اقتصاد کې د خصوصي سکټور رول ته کتنه

فضل ولي شيراني

## سريزه

خصوصي سکټور د يوه هېواد په اقتصادي پرمختګ کې مهمه ونډه لري. دغه سکټور د حکومتونو له قوانينو سره سم فعاليت کوي، سره له دې چې د يوه هېواد په پرمختګ کې زياته ونډه لري، تر څنګ يې خپلې اقتصادي ګټې هم ترلاسه کوي. اوسمهال چې د افغانستان اقتصاد په هغه اندازه نه دی غوړېدلی، لکه څومره چې اړتيا ورته شته، نو له دې امله اقتصادي خپلواکۍ ته اړتيا ورځ تربلې مخ په ډېرېدو ده. دا هغه حالت دی چې يوه ټولنه يا هېواد د خپلې اړتيا وړ توکي په خپلواک ډول توليد او په دې برخه کې سوکه سوکه پر وارداتو د اتکا کچه راټيټه کړي. داسې حالت ته د رسېدو له پاره يو مهم سکټور چې دی هغه خصوصي سکټور دی. دا سکټور کولای شي، د يوه هېواد په بېلا بېلو زيربناوو کې پانګونه وکړي او د هېواد په اقتصادي وده کې خپله ونډه ترسره کړي. اسلامي امارت د خصوصي سکټور اهميت ته په کتو اوسمهال پر دې کار کوي چې خپل اقتصادي بنسټونه پياوړي کړي. د دې له پاره يې د هېواد ټولو هغو برخو ته چې اقتصادي وده ګړندۍ کوي، پام اړولی دی. له طبيعي سرچينو څخه د اغېزناکې ګټې اخيستنې څخه نيولې، د کرنې تر پراختيا او د خصوصي سکټور تر پياوړتيا پورې ټولو برخو کې يې عملي ګامونه پورته کړي دي. اسلامي امارت د افغانستان د اقتصادي خپلواکۍ له پاره د طبيعي سرچينو اغېزناک مديريت او د هغو د استخراج او اکتشاف په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي دي. ددې ترڅنګ يې د خصوصي سکټور د پياوړتيا په موخه موثرې هلې ځلې کړې دي. ددې له پاره چې خصوصي سکټور پياوړی شي، د دې سکټور له پاره يې ګڼې اسانتياوې رامنځته کړې دي چې بېله مثال يې د خصوصي سکټور د ملاتړ صندوق پرانيستل دي. په دې ليکنه کې غواړو چې د خصوصي سکټور، په ملي اقتصادي کې د خصوصي سکټور رول، خصوصي سکټور او د ملاتړ په برخه کې يې د اسلامي امارت اقداماتو ته کتنه وکړو.

## خصوصي سکټور

خصوصي سکټور د يوه نظام د اقتصادي اډانې اصلي جوړونکی دی. ډېری پر دې باور دي چې دغه سکټور د هېوادونو د اقتصادي ودې او پراختيا اغېزناک لامل دی. تر سره شوې څېړنې ښيي چې خصوصي سکټور د عامه سکټور په پرتله د کورني ناخالص توليد، کاري فرصتونو په رامنځته کولو او د ملي عوايدو په لوړولو کې ستره ونډه لري. تر جګړې وروسته هېوادونو کې دغه سکټور د حکومت ملاتړ ته اړتيا لري، څو په ښه ودرېږي او په اغېزناک ډول په اقتصادي فعاليتونو کې خپل رول ترسره کړي او د هېوادونو اقتصادي ودې ته لاره هواره کړي. که چېرې موږ نورې نړۍ ته نظر واچو، نو دا به راته جوته شي چې د نړۍ پرمختللو هېوادونو کې خصوصي سکټور ډېر زيات قوی دی. دا چې خصوصي سکټور په ملي اقتصاد کې څه رول لري، لاندې يې لولو.

## په ملي اقتصاد کې د خصوصي سکټور رول

دا هر چا ته جوته او څرګنده ده چې خصوصي سکټور هغه برخه ده چې فعاليتونه يې د حکومت له دايرې وتلي او په خلکو، سوداګرو او پانګوالو پورې اړه لري، خو شرط پکې دادی چې خصوصي سکټور له شته پاليسيو سره سم پر مخ ځي. خصوصي سکټور د يوه هېواد اقتصادي محرک او له حکومت سره خوا په خوا کار او د هېواد په پرمختګ کې ونډه اخلي. که چيرې د حکومت له لوري ددې سکټور ملاتړ وشي، نو د هېواد پر اقتصاد يې اغيزه مثبته وي. د حکومت د ملاتړ په صورت کې خصوصي سکټور بېلا بېل شرکتونه رامنځته کوي چې پر مټ يې د خلکو له پاره کاري فرصتونه رامنځته او د عوايدو په کچه کې زياتوالی راځي. کله چې عوايد زيات شي، بيا په داخلي بازارونو کې د تقاضا سطح لوړېږي او په پايله کې اقتصادي وده چټکه کېږي. د خصوصي سکټور په پياوړتيا سره يوه بله برخه چې د ملي اقتصاد په پرمختګ کې مهمه ونډه لري، هغه پانګونه ده. د خصوصي سکټور په مرسته حکومت کولای شي زياته پانګه راجلب کړي. د پانګونې په جذب سره په هېواد کې بيا صنعت پراختيا مومي، د صادراتو او کورنيو توليداتو کچه لوړېږي. د خصوصي سکټور بله اقتصادي ګټه داده چې دغه سکټور تر ډېره بريده پر نوښتونو او د ټکنالوژۍ په پرمختګ تمرکز کوي. دا نوښتونه او ټکنالوژي د نويو څېړنو، د توليداتو د پراختيا، د لګښتونو کنټرول او صنعتي فعاليتونو کې ښه والی راولي او له دې سره د توليداتو کچه لوړېږي او اقتصادي وده ګړندۍ کېږي. د خصوصي سکټور په پياوړتيا سره په بازارونو کې د توليداتو ترمنځ د سالم رقابت له پاره لاره هوارېږي او ددې زمينه برابرېږي چې توليدي شرکتونه تر هر څه زيات د خپلو توليداتو پر کيفيت او قيمت دواړو باندې تمرکز وکړي، په دې سره بيا د توکو کيفيت کنټرولېدای او د بيو د لوړوالي مخه نيول کېږي. خصوصي سکټور کولای شي، چې د هېواد صادرات زيات کړي. ددې برخې توليدي شرکتونه او فابريکې هڅه کوي چې په نړيوالو بازارونو کې د خپلو توليداتو له پاره ځای پيدا او سالم رقابت ترسره کړي. کله چې په بهرنيو بازارونو کې د خپلو

محصولاتو له پاره ځای پیدا کړي، نو بیا ددې له پاره زمینه برابربري چې خپل تولیدات بهر ته صادر کړي. خو حکومت باید د صادراتو په برخه کې خصوصي سکتور ته یو څه اسانتیاوې او گمرکي معافیتونه برابر کړي، څو یاد سکتور په نړیوالو مارکیټونو سالم رقابت وکړي. د صادراتو په زیاتوالي سره د کورنیو اسعارو د بیو په کنترول سربېره د هېواد په ناخالصو تولیداتو (GDP) باندې مثبته اغېزه پرېوځي. نو ویلای شو چې د خصوصي سکتور ملاتړ کولای شي د اقتصادي ودې، کارموندنې، نوښتونو رامنځته کولو، د پانگې جذبولو او د هېواد د صادراتو په زیاتوالي کې مرسته وکړي. حکومتونه باید د خصوصي سکتور د پرمختگ له پاره مناسبې پالیسۍ، د پانگونې له پاره هر اړخیز قوانین، د فساد مخنیوی او همدارنگه د خصوصي سکتور د ملاتړ د مثبتو اغېزو د اعظمي کولو له پاره د حکومت او خصوصي سکتور د رول تر منځ مناسب انډول رامنځته او په پراخه کچه پورتنیو موارودو ته زمینه برابره کړي، ددې مواردو په رامنځته کولو سره به موږ یو پرمختللی اقتصادي هېواد ولرو.

## خصوصي سکتور او د ملاتړ په برخه کې یې د اسلامي امارت اقدامات

اسلامي امارت د خصوصي سکتور اهمیت درک کړی دی. د خصوصي سکتور له پاره یې زیاتې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. پانگوالو ته یې د پانگونې له پاره ښه فرصتونه برابر کړي دي. سوداگرو ته یې د سوداگرۍ په برخه کې ډېرې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. صنعت کارانو ته یې د دوی د اړتیا وړ ټول امکانات لکه برېښنا برابره کړې او بشپړ ملاتړ یې کوي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو ویناوو کې تل ویلي چې په هېواد کې د سرتاسري امنیت په ټینگېدو او د فساد کچې په ټیټېدو سره اوسمهال د هر ډول لویو، متوسطو او کوچنیو پانگونو لپاره ښه زمینه مساعده شوې ده. د محترم ملا صاحب په خبره، اسلامي امارت د وارداتو د تعویض د اغېزناکو سیاستونو په پلي کولو سره د داخلي صنایعو ملاتړ ته دوام ورکوي چې دا د هېواد د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کې مهم رول لوبوي. دغه راز د خصوصي سکتور د ملاتړ په برخه کې وروستی گام چې اسلامي امارت پورته کړی دی، هغه له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ په موخه د جوړ شوي صندوق پرانیستل و. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال له خصوصي سکتور څخه د ملاتړ او هغو ته د لازمو اسانتیاوو برابرولو په برخه کې د دغه صندوق رامنځته کول مهم وبلل او ویې ویل، چې په دې سره به د خصوصي سکتور د ملاتړ ترڅنگ د سوداگرۍ، ترانزیټ، صنعت او کورنیو تولیداتو د ودې او پرمختگ بهیر گړندی او دغه راز به هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابر شي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت ته له خصوصي سکتور څخه ملاتړ، کورنیو او بهرنیو پانگوالو ته د پانگونې زمینې برابرول او د کورنۍ صنعت پرمختگ لومړیتوب لري او په همدې موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله له لوري مالیاتي جریمې او پر اصنافو او کسبگرو باندې ثابتې مالیې معاف او تخفیف ورکړل شوی. همدا راز د شرکتونو د تضمیناتو، تامیناتو او طلباتو ورکړه هم پیل شوې ده. ددې ترڅنگ اسلامي امارت د کورنیو تولیداتو د ملاتړ په موخه پر هغو وارداتي اقلامو گمرکي تعرفې لوړې کړې، چې هغه په کور دننه تولیدېږي او د خلکو اړتیاوې پوره کولی شي. دغه راز په هېواد کې اسانه قوانین، ارزانه بشري ځواک، نه کارول شوې بازار او داسې نور هغه څه دي چې د خصوصي سکتور له پاره گټور تمامېدای شي. له دې څخه دا په ډاگه شوه چې اسلامي امارت د خصوصي سکتور اهمیت ته په کتو ددې سکتور د پیاوړتیا له پاره خپلې هلې ځلې کړې دي، اوس خصوصي سکتور لکه څنگه چې پاس یادونه وشوه، باید خپل مسوولیت درک او په ښه ډول یې ترسره کړي. په دې سره به د هېواد ټول سکتورونه وده وکړي او په ټوله کې به اقتصادي وده پیل شي.

## پایله

د هېواد په عنعنوي اقتصاد کې د خصوصي سکتور ونډه خورا غښتلې ده او د حکومت د عوایدو زیاته اندازه هم له دې لارې برابرېږي. خصوصي سکتور خلکو ته د کار او گټور فعالیت امکانات برابروي او پرته له دې کېدلای شي چې په میلیونونو هېوادوال د معیشت امکانات ونه لري. که چیرې د خصوصي سکتور له پاره امکانات برابر شي؛





# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصــادي او تــولنیزو مسایلــو په برخــه کــې
د ریاســت الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

ابادي
هفته‌نامه آبادی


نو په دې صورت کې د ســالمو سیالیو له لارې کېدای شي چې هېــواد د تولیداتو په برخه کې پــر ځان متکي شي. اسلامي امارت د خصوصي سکټور اهمیت ته په کتو ددې ســکټور د پیاوړتیا له پاره جدي ګامونه پورته کړي دي. په هېــواد کې ددننه یې د پانګونې له پــاره فرصتونه رامنځته کــړي او پانګوال کولای شي، په امن او خوندي فضا کې پانګونه وکړي. د خصوصي ســکټور له پاره ګمرکي تعرفې او مالیې یا خو صفــر دي او یا یې هم ډېرې راټیټې کړې دي. اسلامي امارت د خصوصي سکټور د ملاتړ په موخه د انویسټ په نامه شرکت جوړ کړی او ددې شرکت ټول ونــډوال افغانان دی. اســلامي امارت هڅــه کوي چې سترې پروژې د همدې شرکت له لورې عملي کړي. دغه راز په هېواد کې دننه صنعت کارانو او ســوداګرو له پاره د مالیاتي جریمــو معافیت بله هغه ګام دی چې اســلامي امارت د خصوصي ســکټور د پیاوړتیا او پرمختګ له پاره اخیســتی دی. د طبیعي سرچینو په ځانګړې ډول ســترو کانونو زیاتره قراردادونه له خصوصي سکټور سره لاسلیک شــوي دي. دغه راز لکه پورته مو چې اشاره ورته وکړه، د خصوصي ســکټور د ملاتړ د صندوق پرانیستل، دا او دې ته ورته نورې اســانتیاوې هم رامنځته شوې دي. نو اوس خصوصي سکټور ته هم په کار ده چې د هېواد په ټولو هغو سکټورونو کې چې کولای شي، د هېواد اقتصاد پیاوړی کړي، خپله پانګونه ونه ســپموي. پــه دې سره به له یوه لورې خصوصي ســکټور لکه څنګه چې د یوه هېواد د ملي اقتصاد پــه پیاوړتیا کې مهم رول لــري، خپل دغه رول ترسره کړی وي او له بل لــورې به مو هېواد له اقتصادي پلوه پر ځان بسیا شوی وي.



## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابــل په شهزاده ســرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١ | امریکایي ډالر | ٦٦,٤٠؋ | ٦٦,٤٥؋ |
| ١٠٠٠ | پاکستانی کلدارې | ٢٢٧؋ | ٢٢٧؋ |
| ١٠٠٠ | ایراني تومن | ٠,٦١؋ | ٠,٦٢؋ |
| ١ | اروپايي یورو | ٧٦,٤١؋ | ٧٦,٤٦؋ |
| ١ | روسي روبل | ٠,٨٢؋ | ٠,٨٢؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ١٠٠٠ | هندی کلدارې | ٧٤٩؋ | ٧٥٠؋ |
| ١ | انګلیسي پونډ | ٨٦,٧٢؋ | ٨٦,٧٨؋ |
| ١ | سعودي ریال | ١٧,٧٠؋ | ١٧,٧٢؋ |
| ١ | اماراتي درهم | ١٨,٠٨؋ | ١٨,٠٩؋ |
| ١ | چیني ین | ٩,٣٢؋ | ٩,٣٢؋ |

